

نورمُحـمَدغـفوري

# د زړه مینه

*ځوک به د نوم هسې په خوله یادوي*

*زما د هر سلول په زړه یادوي*

*د خیالي ځنو به د څه ووایم*

*خیال مې یې هر ویښته ویښته یادوي*

*چاته د مینې مینه توکې ښکاري*

*ځینې یې لوړه تر هر څه یادوي*

*مینان یو بل ته ګواښیږی سره*

*د غمازانو فتنې نه یادوي*

*قاضیان د ښکلو پر مخ خولې لګوي*

*زموږ ګناه بیا، تش کاته یادوي*

*چې د وفا نښانې نه وی پکې*

*داسې معشوقې به ځوک څه یادوي؟*

*آشنا راځه د عقل لاره نیسه*

*رقیب د بد او که د ښه یادوي*

*د ګډ ارمان سختو شپېو ملګرو!*

*(غفوری) تاسې پل په پله یادوي*